انجنیر عبدالوکیل متین

۲۰۱۷/۰۶/۲۴

# د اختر ورځې

تیریږي رپ د سترګو کی کلونه ځي راځي
ماتم او ښادی نه غواړي وختونه ځي راځي
اختر مو مبارک شه ورونو خویندو افغانانو
درشل ته د هر یو مې سلامونه ځي راځي



خالی یې غیره نشوه له تنکو تنکو ځوانانو
دې خاورې د احمد ته غیرتونه ځي راځي
د چا له پټه سره د حیا پوړنۍکوز شو
د چا بې پتې غاړې ته هارونه ځي داځي

په اوښکو کې لمدې کړلی نکریزې کونډې ناوې
د وخت مبارکۍ ته سره لاسونه ځي راځي

اختر کی رانه ورک شولې زما ورکه لالیه!
وستل ته دې همزولی سره ګلونه ځي راځي
اختر دی مبارک وی د هغوی چې یې مزار ته
تسبیح د ترمو اوښکو د رودونو ځي راځي
شرنګا د زولنو به آخر تول کاندې را ویښ
کوڅو ته دې ویدو چې ځنځیرونه ځي راځي

ځئ ټول په یو وحدت شو په خاطر د شهیدانو
بیا پریږدئ رقیبان چی پری غمونه ځي راځي

هر ځل چی نسیم راشي معطر وی په عطرونوو
وطن د متین زړه ته می عطرونه ځي راځي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com